ولي الله ملکزی

۲۰۲۶ / ۰۶ / ۲۷

# کربلاء؛ د شهامت سمبول او د مذهبي ناندریو ډګر

له علي، حسن او حسین (رضی الله عنهم) سره مینه او د هغوئ درناوی د هر مسلمان د ایمان او اسلامي ارزښتونو مهمه برخه ده. نن د ۱۴۴۸ هجري قمري کال د محرم لسمه نېټه ده، چې په عربي کې ورته عاشوراء ویل کېږي. د کربلاء پېښه د اسلامي تاریخ یو ډېر دردناک، تاوجن او غمجن فصل دی. ځکه په دې فاجعې کې د رسول الله ﷺ لمسی، حسین بن علي (رض) د هغه د کورنی غړي او ملګري په ډېرې بې رحمی سره شهیدان شوي او د هر مسلمان زړه پرې دردېږي.

که موږ د یوه کلي او یوې باندې د جومات هغه ملا ته چې مازې قدوري، خلاصه او پنج کتاب یې لوستي وي، "امام صاحب" وایو، نو په جار او ویاړ سره حضرت حسین خپل ستر امام ګڼو. البته د اهل سنتو د عقیدې له مخې، عصمت یوازې د انبیاوو ځانګړنه ده او له هغوئ پرته بل هېڅ انسان معصوم نه دی. د کربلاء د فاجعې اصلي عاملین، د کوفې والي عبیدالله بن زیاد، شمر بن ذي الجوشن او سنان بن انس په پخوانیو شخړو کې هم د علي کرم الله وجهه له اتباعو څخه وو. کله چې په ۳۷ هجري کال کې د عراق او شام لښکرې په صِفین کې یو بل ته مخامخ شوې، نو دا درې واړه د علي بن ابي طالب سر ګروپان او د حضرت معاویه د ځواکونو خلاف د جنګ په لومړنی لیکې کې جنګېدل.

د عاشوراء ورځ د حسین (رض) له شهادت څخه ډېر پخوا د روژې، شکر او عبادت ورځ وه. کله چې رسول الله ﷺ له مکې څخه مدینې ته هجرت وکړ، ویې لیدل چې د مدینې یهودان د عاشوراء روژه نیسي. د علت پوښتنه یې وکړه؛ هغوئ وویل: دا هغه ورځ ده چې موسی (ع) او بني اسرائیل د فرعون له ظلم څخه خلاص او د نیل له سیند څخه په سلامتی سره اوړېدلي دي. رسول الله ﷺ وفرمایل: «موږ موسی ته له تاسو څخه ډېر نږدې یو» بیا یې د عاشوراء د روژې نیولو توصیه وکړه او ویې ویل: «که تر راتلونکي کال پورې پاتې وم، د محرم نهمه به هم روژه ونیسم.»

د کربلاء تر فاجعې وروسته، دغه پېښه د اسلامي تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې یوازې د ویر او عبرت موضوع پاتې نه شوه؛ بلکې د سیاسي سیالیو او مذهبي اختلافونو د پیاوړتیا وسیله هم وګرځېده. د امویانو او عباسیانو وروسته، د صفویانو او عثمانیانو د رقابتونو پرمهال هم د دیني احساساتو ترڅنګ د سیاسي مشروعیت لپاره وکارول شوه. خو دا تجربه یوازې د اسلامي نړی تر پولو بنده پاتې نه شوه؛ بلکې د نړی نور ملتونه هم له ورته ازمېښتونو سره مخ او د مذهبي جګړو په تنور کې وریت شول.

اروپا په شپاړسمي او اوولسمي میلادي پېړیو کې د کاتولیکانو او پروتستانتو ترمنځ د سختو مذهبي جګړو شاهده وه. کاتولیک ځواکونه تر ډېره د فرانسي او هسپانیې له ملاتړ څخه برخمن وو او پروتستانت د انګلستان، هالنډ او جرمن پلوو ډلو له خوا ملاتړ کېدل. په دغو جګړو کې نژدې څلور میلیونه انسانان د جګړو، لوږې او ناروغیو له امله ووژل شول او پراخې ویجاړی رامنځته شوې. خو اروپایي ټولنو د اوږدو او ترخو تجربو له تېرولو وروسته، د قانون، زغم، او عقلاني سیاست پر لور حرکت وکړ او ښېرازه شول. دا بدلون د څو پېړیو د ټولنیزو، سیاسي او فکري پړاوونو پایله وه. همدا نن، په نړی کې زیاتره جګړې ډېر پېچلي عوامل لري چې سیاست، اقتصاد، قومي سیالی، د قدرت مبارزه او بهرنی لاسوهني یې بنسټیز لاملونه دي.

څرنګه چې د کربلاء د خونړی پېښې ۱۳۴۶ کاله پوره شول، نو هغه باید د الهام سرچینه وي نه د کرکې، تلپاتې دښمنیو، شخړو او مذهبي ناندریو ډګر. عقلانیت، زغم او عدالت د ټولنو د پرمختګ ستنې دي. نن امت تر هر وخت زیات یو هې، متقابل احترام او سولې ته تږی دی. په همدې دوو لسیزو کې مو ولیدل چې د عراق، سوریې، لبنان او یمن ولسونه جګړو او فرقه اییز تاو تریخوالي څومره بد بد وځپل؟ په دغو هېوادونو کې افراطي مذهبي ډلې، کورنی جګړې، بهرنی لاسوهني او سیاسي سیالی د سلګونو زرو انسانانو د وژل کېدو، د میلیونونو وګړو د بې ځایه کېدو او پراخه اقتصادي او ټولنیز زیان لامل شوي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ

له دې ټولو ناخوالو څخه ښکاري چې مذهبي تربګنې او د افراطیت دوام له ذلت، فقر او کډوالي پرته بل پېغام او پایله نه لري. څومره به غوره وي چې د عقلانیت، حکمت او پخلاینې لاره خپله کړو او د هغو ملتونو له تاریخي تجربو څخه عبرت واخلو چې خپلې اوږدې شخړې یې د زغم او متقابل احترام له لارې مهار کړې او د سیالانو سیال شول؟

تاریخ ښیي چې په زیاترو جګړو کې یو لوری بریالی او بل ماتې خوري؛ خو مذهبي جګړې دواړه خواوې له مادي او معنوي زیانونو سره مخ کوي او هېڅ اړخ یې حقیقي ګټونکی نه وي. ځکه دا ډول شخړې یوازې انسانان نه وژني، بلکې د ټولنو یووالی، باور او راتلونکی هم زیانمنوي.

الله مې دې زاړه ایمان ته خبر کړي!



د لیکوال نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ